مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی ۲۰۲۳/۱۲/۱۵

# امیر عبدالرحمن خان او د هغه د مرکزي حکومت د جوړولو پالیسي

(دوهمه برخه)

امیر عبدالرحمن خان، که څه هم چي د معاصر افغانستان، عصري اداري او پوځ موسس بلل کیږي او د هغه په دوره کي ډېر زیات اداري، سیاسي او صنعتي اصلاحات راغلي دي مګر نظام یې دومره استبدادي وو چي په افغانستان کي یې نه تر ده مخکي او نه وروسته ساری لیده سوی دی. د هغه پوویشت کلنه پاچهي د ویرې او وحشت دوره وه. امیر نه یوازي د خپلو سیاسي رقیبانو او د کابل د تخت د مدعیانو د له منځه وړلو او د ډیرو زیاتو قبایلي او قومی بښوربښونو په ځپلو کي له زور او په ظلم او وحشت کی له افراط څخه کار واخیست بلکه د خپلو نورو عادی مخالفینو او د ده د فرمانونو له متخلفینو سره یې هم له داسي سخت سلوک څخه کار اخیست چي وطن یې ځینو خلکو ته دوږخ کړی وو. د خلکو سنګسارول، حلالول، ړندول، د لاسونو او پښو او حتی ژبو قطع کېدل، تېل داغ او رنګارنګ نوري شکنجي د ورځي موضوع وه. بندیخاني له بندیانو ډکي وې او چاته معلومه نه وه چي خوشی به سي او که به یې ژوند په بندیخانه کي ختم سی. په هغه ورځ چي امیر له دنیا څخه کوچ وکړ یوازي د کابل په بندیخانو کي ۱۲ زره نارینه او ۸ زره ښځینه بندیاني یعني جمله ۲۰ زره بندیان موجود ول. مجددي، حقیقت التواریخ ص ۱ب۸۸

د امیر عبدالرحمن خان د پاچهی، په تېره بیا لومړیو پنځه لسو کالو کي، دومره زیات انسانان له منځه ولاړل چي افغانستان په تاریخ کي د هیڅ واکمن په دوره کي نه دونه زیات خلک اعد ام سوي، نه په بندیخانو کي تلف سوي او نه په داخلي جنګونو کي وژل سوي دي.

امیر عبدالرحمن خان، د قدرت په لومړیو شپو ورځو کي، د امیر شیرعلي خان د کورنۍ او نورو محمدزایانو د رقابت سره مخامخ وو. پر دې برسېره، لکه مخکی چي مو وویل هر خان، ملک، شیخ او قومي مشر د پاچاهی خیال په سر کي درلود. امیر د خپل قدرت د رقیبانو او د مرکزي اداري د دښمنانو د ځپلو لپاره له ټولو ممکنه وسایلو څخه کار واخیست او ګناه کارو تر څنګ یې، ډېر ځله، بېګناه او مظلوم انسانان د خپل قهر او غضب قرباني کړل. ده فکر کاوه چي په عام محضر کي د خپلو دښمنانو په قتلولو او په سزا رسولو سره به نور خلک وبېروي او د یوه قتلېدل به د بل عبرت سي. د سردار محمداسحق خان د بښورښ له ځپلو څخه وروسته یې د هغه نیول سوي عسکر او صاحب منصبان هره ورځ د کابل د مراد خانی په میدان کی پنځه لس پنځه لس تنه په تورو ځیرل او وژل. مجددي ص ۲۳۷

د ۱۸۸۷ کال د ژمي د موسم په سر کي امیر عبدالرحمن خان ته رپوټونه ورسېدل چي افغاني ترکستان حاکم سردار محمداسحق خان د بښورښ کولو خیال لري. امیر عبدالرحمن خان خپل زوی سردار حبیب الله خان په کابل کي پرېښود او پخپله د لغمان ولایت ته، د ژمي د تېرولو لپاره، ولاړ. په لغمان کي دونه سخت ناروغ سو چي د مرګ آوازه یې ګډه سوه ( ځیني منابع وایي چي دا آوازه یې پخپله ګډه کړې وه) سردار محمداسحق خان سمدستي ځان د کابل د تاریخ وارث وباله او د کابل پر لور یې د حرکت کولو لپاره تیاری پیل کړ. امیر عبدالرحمن خان خپل جنرالان غلام حیدرخان او سردار عبدالله خان د هغه مقابلي ته واستول. د غزنیګک په علاقه کي دواړه خواوي سره مخامخ سوي. د جنګ په جریان کي، د امیر د لښکرو یوې برخي ماته وکړه او بله برخه یې د سردار اسحق خان یوه جنرال ته سلامي سوه. د سردار اسحق خان عسکرو، چي د امیر عبدالرحمن خان تسلیم سوي عسکر هم ورسره وه، سردار ته د مبارکی ویلو لپاره د هغه پر لور حرکت وکړ. سردار، چي د عبدالرحمن خان عسکر له لیري ولیدل، داسي فکر یې وکړ چي لښکر یې مات سوی او د امیر پوځ د هغه د نیولو لپاره ورځي؛ سمدستي یې د آمو د سیند پر لور وځغستل او د سترګو په رپ کي د روسیي خاوري ته واوښت. فتح د امیر په نصیب سوه.

امیر د سردار اسحق خان نیول سویو عسکرو او صاحب منصبانو ته ډیري سختي سزاوي ورکړې. ډېر زیات یې په توپ کي والوزول؛ په سل هاوو یې ړانده کړل او ښځي او ماشومان یې د غلامانو په توګه خرڅ کړل. امیر د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سردار اسحق خان دې عسکرو ته دونه سختې سزاوې ورکړې چې موضوع يې ان د برتانيې په پارلمان کې مطرح سوه او د هند ويسرا امير ته په يوه لېږلي مکتوب کې له هغه څخه د دې قتلونو او سزاوو په باره کې پوښتنه وکړه. امير ويسرا ته وليکل « د انګليسيانو هم ښورښونه نه خوښيږي» او له دې خبرې څخه يې مطلب د هند د ۱۸۵۷ کال له ښورښ څخه وروسته هغو ياغي عسکرو ته اشاره وه چې انګليسيانو په توپونو کې الوزلي وه. Fletcher, Afghanistan…. P 147

امير عبدالرحمن خان، د سردار محمداسحق خان د ماتې وروسته، د شمال پر لور حرکت وکړ او د حکومت چارې يې خپل مشر زوی سردار حبيب الله خان ته وسپارلې. تقريباً دوه کاله په مزار شريف کې پاته سو او په هغه سيمه کې يې د چارو د سمبالولو څخه وروسته بيرته د کابل پر لور حرکت وکړ.

له دې وروستيو پېښو څخه وروسته، امير عبدالرحمن خان د هزاره ګانو له پرله پسې ښورښونو سره مخامخ سو. امير عبدالرحمن خان وايي چې هزاره ګانو، له څه باندې دريو پېړيو راهيسې، هيڅ واکمن ته منظم ماليات نه وه ورکړي ځکه نو د هغوی څخه د منظمو مالياتو د اخيستلو لپاره اقدامات لازم ول. له بلې خوا هزاره ګانو، چې د هيواد په مرکزي سيمه کې اوسېدل، د شاوخوا ګاونډيو قومونو مالونه لوټل او د تجارتي کاروانونو امنيت يې خراب کړی وو. امير ليکي:

« د ۱۸۹۰ کال په پسرلي کې، ځينو هزاره ګانو پر مسافرينو باندې حملې او د هغوی د مالونو لوټل پيل کړل. زما پوځي مامورينو، چې مرکز يې په غزني وو، د اوروزګان ځينو مشرانو ته ليک واستاوه او هغوی ته يې وليکل چې که زموږ خپل رعايا آرام نه سي نو زموږ څلورو خواو ته ګاونډيان به دا زموږ د کمزورۍ نښه وبولي او موږ به بدنام سو. نو بهتره به دا وي چې تاسي زموږ د پاچا تابعيت ومنی او له جنګ جګړو څخه لاس واخلی. . . د هزاره ګانو مشرانو، چې په خپل قوت مغرور ول، زموږ د پوځيانو په جواب کې، د لسو شلو مشرانو په امضاء يو کاغذ، په دې مضمون، و کيښ:

که تاسي افغانان د خپل ظاهري امير په قوت مغرور ياست موږ د خپل روحاني امير يعني د ذوالفقار د څښتن په قوت تر تاسي زيات مغرور يو. . . اې افغان مامورينو! ولي مو په خپل ليک کې د څلورو ګاونډيو هيوادونو يادونه کړې ده. ولي مو پنځه ګاونډي هيوادونه نه دي ذکر کړي. ځکه چې په خپلو ګاونډي هيوادونو کې مو بايد زموږ دولت هم ذکر کړی وای. ستاسي د خپلې ښېګڼې لپاره درته وايو چې زموږ څخه لاس واخلی» تاج التواريخ ص ص ۲۶۴-۶۵

امير د هزاره ګانو د بغاوت د ختمولو لپاره له باميان څخه سردار عبدالقدوس خان، له هرات څخه جنرال شيرمحمدخان او له کابل څخه جنرال زبردست خان واستول. دې لښکرو د هزاره ګانو ښورښونه وځپل او د هغوی مرکز اوروزګان يې ونيوی. د هغوی تقريباً سل تنه مشران يې کابل ته بنديان راوستل او امير هغوی ونازول. له زرو څخه تر ۲ زرو روپيو پورې يې انعامونه او خلعتونه ورکړل او د هغوی مشر محمدعظيم خان ته يې د سردار لقب ورکړ او د هزاره جات حکومت يې وروسپاره.

سردار محمدعظيم خان، لږوروسته ښورښ پيل کړ او امير خپل يو جنرال محمدحسين خان، چې د محمدعظيم خان دښمن وو، مقابلې ته ور واستاوه. د ښورښ لمنه ډېره پراخه وه. له دې پراخ ښورښ سره د امير د لښکرو جنګونو تقريباً يو کال وخت ونيوی او بالاخره محمدعظيم خان ونيول سو او له ټولي کورنۍ سره کابل ته راوستل سو او په بنديخانه کې وفات سو. ص ص ۲۶۵-۶۶

امير عبدالرحمن خان، محمدحسين خان هزاره ته، د دې خدمت په بدل کې د الماس نښان او د شهزادګۍ خول ورکړ او د هزاره جات حکومت يې وروسپاره. محمدحسين خان هم ياغي سو او د هغه د ښورښ لمن تر مخکني ښورښ هم پراخه وه. د دې ښورښ ځپلو هم څه باندې يو کال ونيوی او بالاخره محمدحسين خان او د هغه بل ملګری تاجي خان، چې په سنګ خورد مشهور وو، ونيول سول او د امير په قول، هغه سيمه له مفسدينو څخه پاکه سوه. ص ص ۲۶۷-۶۸

ملافيض محمدليکي چې په دې وروستيو جنګونو کې ډېر زيات هزاره ګان ووژل سول او د هغوی له سرونو څخه يې د قندهار د توپخانې په بازار کې کله منار جوړ کړ. په همدغو شپو ورځو کې د ملا عبدالحق په نوم يوه سړي، چې امير وظيفه ور وسپارلې وه، د اندړو، تره کو، هوتکو او علی خېلو قبايل د هزاره ګانو پر ضد ولمسول. د هزاره ګانو د کفر فتوا يې ورکړه او د هغوی وژل يې روا او مالونه يې غنيمت وبلل. کاتب، سراج التواريخ جلد سوم قسمت دوم ص ۱۴

د هزاره ګانو ښورښونه ډېر دوامداره سول او په ۱۸۹۳ کال کې چې تقريباً لسو زرو عسکرو د هغوی په کليو کې قلاوې آبادې کړې او ځينو عسکرو د هزاره ګانو په کليو کورونو کې واړول او د خپل خرڅ خوراک ټول لګښتونه يې پر هغوی باندې حواله کړل او دغه راز يې د مالياتو د تنظيم په غرض د هغوی د مځکو سروې پيل کړه؛ نو د


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

هزاره ګانو نارضاييت نور هم زيات سو. د هزاره ګانو نارضاييت او ناکراريو هغه وخت نور هم زور واخيستی چې د مشهد مجتهدينو فتوا ورکړه چې د سني افغانانو پرضد جنګ يوه مذهبی فريضه ده او که څوک په دې جنګ کې ووژل سي هغه شهيد دی. Kakar P 177

د شيخ محمدتقي په مشرتوب، د مشهد مجتهدينو فتوا هغه وخت صادره کړه چې په افغانستان کې د شيعه ګانو د کړاو د ختمېدلو په برخه کې د ايران د پاچا ناصرالدين شاه قاجار دوه ځله کوښښونو نتيجه ورنه کړه. د ايران شاه په ۱۸۹۲ کال کې، په افغانستان کې د شيعه ګانو د کړېدلو په باره کې لندن ته شکايت وکړ. د هند ويسرا، د لندن په هدايت، امير ته وليکل: « دا به ډېره ګټوره وي چې که تاسي جلالتمآب ماته اجازه راکړی چې دا رپوټونه رد کړم» مګر امير په دې برخه کې هيڅ سازش ته تيار نه وو او ويسرا ته يې ټينګ جواب ورکړ: « ما خپلو عسکرو ته هدايت ورکړی دی چې زما ياغي شيعه اتباعو ته سزا ورکړي. هغوی د افغانستان اتباع دی او د خپلو اعمالو سره سم مې په مرګ، بند او تبعيد محکوم کړي دي. که چيري دا معلومه سي چې د ايران شاه او د هغه هيواد ملايان د افغانستان په داخلي چارو کې د مداخلې خيال لري نو د افغانستان سنيان به د ترکيې او نورو اسلامی هيوادونو له مرستې پرته د هغوی جواب ورکړي» وايسرا د امير له دې سخت جواب څخه وروسته په دې موضوع کې له لاس وهلو څخه لاس واخيست. Ibid P179

له دې وروستی پيښي څخه لس کاله مخکي په ۱۸۸۳ کال کې د ايران د شاه يو استازی د کندهار له لاري کابل ته رسېدلی وو او له کندهار څخه د برتانيي استازی او خبرليکونکی په خپل رپوټ کې ليکي چې امير حکم کړی وو چې هيڅ څوک له هغه سره ليدلای نه سي؛ او هغه يې د نايب محمدعلم خان په کور کې ساتلی وو. کله چې امير هغه د خبرو لپاره ور وغوښت نو منشي د دراوزې شاته د امير دا خبره واورېده چې استازي ته يې ويل د افغانستان امير د هيڅ چا امر نه مني او نه به هغو پيشنهادونو ته غوږ ونيسي چې تا راوړي دي. دا نه د ايران له پاچا او نه د شهزاده رکن الدولة سره ښايی چې داسي چاته چې دوی يې خپل دوست بولي دغه ډول پيشنهادونه وکړي. Kandahar Newsletters No 40 Oct 19th 1883

له دې پيښي څخه مخکي د برتانيي استازي د همدغه کال د اګست په مياشت کې رپوټ ورکړی وو چې د ايران يو استازی افغانستان ته روان دی او غواړي چې د هزاره جات له لاري کابل ته ولاړ سي او په لاره کې د هزاره ګانو سره وګوري. استازي په مشهد کې ويلي وه چې ايران، له هراته پرته، د افغانستان په خاوره هيڅ ډول دعوه نه لري. Ibid No28 Aug 1883

په دې کې شک نسته چې د امير عبدالرحمن خان په زمانه کې د ښورښی هزاره ګانو سره ډېر سخت سلوک وسو. د دې يو علت دا وو چې هغوی ټول په غرنيو سيمو کې اوسېدل او د حکومتي عسکرو لپاره د هغوی د کليو او ښارونو فتح کول مشکل کار وو او جنګونو تر عادي حالت ډېر دوام وکړ. هزاره ګان په هيڅ صورت د کابل د حکومت واکمنی منلو او د ماليات ورکولو ته نه حاضرېدل او امير مجبور وو چې د مرکزي اداري د منځته راوړلو او د ټول افغانستان د يو موټی کولو په لاره کې دغه عمده خنډ ليري کړي او د خپلو نورو رعاياوو په څېر هزاره ګان هم د کابل د حکومت د واک منلو او ماليات تاديه کولو ته مجبور کړي. البته کله چې د ايران او برتانيي له خوا هم مداخله وسوه نو د ښورښی هزاره ګانو لپاره يې ځکه ستونزي نوري هم زياتي کړې چې د امير عبدالرحمن سرکښ او سرزوری طبيعت د بل چا د امر او هدايت منلو ته جوړ نه وو. امير، د ډېرو زياتو ليکوالانو د ادعاوو په خلاف، د هزاره ګانو سره کوم خاص مخالفت او تعصب نه درلود. هغه د خپلو کاکا د زامنو، عزيزانو او غلجي پښتنو سره هم تر دې بهتر سلوک نه دی کړی.

پر ياغي هزاره ګانو باندي د امير عبدالرحمن حملې د ۱۸۹۰ کال څخه پيل سوې او تقريباً درې کاله يې دوام وکړ. په داسي حال کې چې هزاره ګان د امير عبدالرحمن د پاچهی له پيل څخه د هغه له قدرت سره مخالف ول. دا چې ولي دا حملې دونه ناوخته پيل سوی علت يې د امير بېخبري نه وه بلکه امير د ايوب خان، غلجيو او وروسته د سردار محمداسحق خان له ښورښونو او ستونزو سره مخامخ وو او هزاره ګانو ته يې د توجه کولو فرصت نه درلود.

د هزاره ګانو د ښورښونو په ځپلو کې د امير د سخت سلوک يو علت د هغوی پرله پسې ښورښونه او د ماليات له ورکولو څخه انکار او حتی د استقلال اعلان وو؛ او دوهم لوی علت يې د هزاره ګانو او په عمومي صورت د شيعه ګانو په مسله کې د ايران د پاچا ناصرالدين شاه مداخلې وې چې په ډېره سپين سترګي يې د هرات د ملکيت مستقيمه دعوه درلوده. په دې برخه کې په کندهار کې د برتانيي د استازي او خبرليکونکي مفصل رپوټونه موجود دي او سړی نه پوهيږي چې زموږ مورخينو ولي هغو ته توجه نه ده کړې. په کندهار کې د برتانيي خبرليکونکی ميرهاشم د ۱۸۸۳ کال د نومبر په رپوټ کې ليکي:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

« کله چي د گورنر ورارہ سردار محمدقلي خان د ايران له استازي سره، د مېلمه پال په حيث، کابل ته روان سو نو ما له هغه څخه وغوښتل چي کوښښ وکړي د ايران د استازي د سفر د هدف په باب يو څه اطلاعات راکړي. محمدقلي خان د رواني مياشتي پر دريمه له کابل څخه راستون سو او ماته يې وويل:
د ايران استازي د ايران له شاه څخه کوم ليک له ځان سره نه درلود او يوازي يې د شهزاده رکن الدولة له خوا يو ليک امير ته راوړی وو. استازي د امير لپاره څلور طلايي چلمونه، د قېمتي ډبرو تسپي، دوه څراغونه چي څلور سوه روپۍ ارزښت يې درلود. د جواهراتو ډک يو کوچنی صندوق، چي په قېمتي ډبرو تزيين سوی جوغه پکښي وه، او استازي ويل چي درې زره تومنه ارزښت لري او امير ويل چي ارزښت يې شل زره کابلی روپۍ دی، د سوغاتونو په توگه ورسره راوړي وه. استازي له امير سره په لومړی کتنه کي يوازي د شهزاده رکن الدولة ليک او سوغاتونه امير ته تسليم کړل او نوري خبري يې ونه کړې. . . استازي امير ته وويل چي دا تحفي د شهرازده رکن الدولة دي او شاه به وروسته خپلي ارزښتمني تحفي ورته را واستوي. . . .
امير د اختر په ورځ د ايران استازي او د هغه ملگرو ته شالونه او پوستينونه ورکړل او وروسته يې دوه ځله شپږ زره روپۍ ورکړې. استازي امير ته وويل چی غواړي د هزاره جات له لاري هرات ته ولاړ سي خو امير هغه ته وويل چي هوا سړه ده، په لاره کي واوري دي او بهتره به دا وي چي هغه بيرته د کندهار له لاري هرات ته ستون سي. سردار محمدقلی خان د امير لپاره د شهزاده رکن الدولة د مکتوب متن نه دی ليدلی. خو د ايران استازي کابل ته د روانېدلو په وخت کی ويلي وه چي د ايران شاه غواړي د افغانستان سره يوه داسي تفاهم ته ورسيږي چي د دواړو هيوادونو اړېکي به لا هم ښېتلي سی او د تفاهم څخه يې مطلب دا دی چي هرات دي ايران ته وسپارل سي. Ibid No 43. 26th Nov 1883 Kandahar.
د افغانستان په خاوره، په تېره بيا د هرات په ښار، د ايران دعوه تاريخي سابقه لري او چي هر کله په افغانستان کي حکومت کمزوری سوی دی نو ايران پر هرات باندي حمله کړې ده. د ايران پاچا ناصرالدين شاه قاجار، د خپل پلار محمدشاه قاجار او خپله نيکه شهزاده عباس په څېر، د هرات د نيولو او په ايران پوري د نښلولو ارمان درلود. هغه په ۱۸۵۶ کال کي پر هرات باندي لښکرکشي وکړه او هغه ښار يې ونيوی. څو مياشتي وروسته، برتانيي، د ايران پر دغه اقدام باندي د اعتراض په توگه، د ايران د خارک ټاپو او وروسته د بوشهر بندر ونيوی. وروسته د سرجيمز اوټرام Sir James Outram تر قوماندې لاندي پوځيانو د کارون پر سيند باندي په مهامره کي د ايران پوځيانو ته ماته وکړه او ايران له برتانيي څخه د سولي غوښتنه وکړه. د پاريس د تړون په اساس، د ايران شاه موافقه وکړه چي د افغانستان له خاوري څخه به وزي او بيا به د افغانستان په خاوره دعوه نه کوي او نه به د هرات له مشرانو او نه د افغانستان د کومي بلي سيمي له مشرانو څخه د اطاعت غوښتنه کوي او نه به له هغوی څخه غواړی چي د ايران د شاه په نوم سکه ووهي او يا د هغه نوم په خطبه کي ياد کړي. Sykes. A History of Afghanistan Vol2 PP 66-67
دا پيښي دونه تازه وې چي هم امير عبدالرحمن خان او هم د افغانستان، په تېره بيا د هرات، تقريباً ټولو خلکو ته په ياد وې. د ايران شاه ښايي فکر کړی وو چي امير عبدالرحمن خان په داخلي جنگونو لگيا دی او گوندي په سوله ايزه توگه د هرات ښار ورته پرېږدي. خو کله چي امير د شاه استازي ته د رد جواب ورکړ او هغه ته يې اجازه ورنه کړه چي د هزاره جات له لاري هرات او بيا ايران ته ستون سي او په هزاره جات کي د ايران د شاه د غوښتني او ارزو سره سم تبليغات وکړي نو د ايران د شاه غضب يې را وپاراوه. دا چي ايران به وروسته څه اقدامات کړی وي چنداني اسناد موجود نه دي خو د ۱۸۹۰ په لسيزه کي څرگنده سوه چي ايران د افغانستان پر ضد له دسيسو څخه لاس نه دی اخيستی او چي کله يې شکايتونو ځای ونه نيوی نو د افغانستان د سنيانو پر ضد يې د جهاد فتوا صادره کړه.
د هزاره جات په سيمه کي د امير عبدالرحمن خان د پوځيانو او جنرالانو له اعمالو څخه څوک دفاع نه سي کولای او، د اوسني عصر د معيارونو په اساس، ښايي د بشر له حقوقو څخه تېری وگڼل سي. خو د نولسمي پېړۍ شرايط او په داخلي جنگونو کي د امير عبدالرحمن خان پرله پسي لښکرکشيو او له بلي خوا د هزاره جات په ښورښونو کي د ايران څرگندو مداخلو او د هزاره گانو د مشرانو له لوري د استقلال اعلان ښايي امير عبدالرحمن خان، چي نه يې د انگليس، نه يې د ايران او نه يې په داخل کي د چا خبره منله، سختو اقداماتو ته مجبور کړی وي. خو دا خبره بيا هم کولای سو چي د امير په جنگي او اداري اقداماتو کي هيڅ قام او اولس تر بل زيات نه دی ټکول سوی او چي هر چا د ښورښ او مخالفت سر پورته کړی دی وهل سوی دی.
په کندهار کي د برتانيي استازی خان بهادر ميرزا محمدتقی خان په خپل يوه رپوټ کي ليکي: « د ۱۱۰ غلجيو ياغيانو، چي د جولای پر يوويشتمه په جنگونو کي وژل سوي دي، سرونه کندهار ته راوړل سوي دي. نايب الحکومة امر وکړ چي د هغوی له سرونو څخه دي کله منار جوړ سي. په دې سرونو کي يوازي اته سرونه د اندړو



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

دی او باقي پاته د ناصرانو دي او له هغه له اوږدو وېښتانو څخه معلومیږي. د ښار ځیني خلک په قار ول او ویل یي چي په کله منار کي د ښځو سرونه دي خو کله چي زه ورغلم او له نیژدې مي ولیدل هغه د ناصرانو سرونه ول او خلکو د هغوی د اوږدو وېښتانو له کبله فکر کړی وو چي دا به ګوندي د ښځو سرونه وي» Kandahar No.60 2nd Aug 1887

د همدغه رپوټ په یوه بل ځای کی لیکي: « اته لس تنه اندړ چي د بغران د پښت رود په ناحیه کي نیول سوي او په ګرشک کي بندیان ول د امیر په امر اعدام سوي دي. که څه هم چي ۱۴ تنو یي ویل چي دوی د کندهار اوسېدونکي دي او له خپله قومه څخه بېل سوي او په کندهار کي ژوند کوي» Ibid 6

استازی په بل رپوټ کی لیکي: « لواء مشر سکندرخان هره ورځ د هوتکو له سیمي څخه غوایی، پسونه، آسونه او نور مالونه، چي له هو تکو څخه یي اخیستي دي، کندهار ته د لیلام لپاره لیږي او د خرڅو سویو مالونو پیسي د دولت خزاني ته تحویلیږي» Ibid Letter No.3 January 1887

امیر عبدالرحمن خان نه یوازي پر غلجیو باندي سختي پوځي وکړې او د سر او مال بېحده زیانونه یي ور واړول بلکه په زرهاوو کوچي کورنیو ته یي، چي تقریباً ټول غلجي ول، او په ژمي کي به هندوستان او په اوړي کي به بیرته افغانستان ته راتلل، افغانستان ته د بیرته ستنېدلو اجازه نه ورکول.

د برتانیي خبرلیکونکي په یوه رپوټ کي لیکلي دي چي د کندهار نایب الحکومة ته د قلات حاکم یو مکتوب لېږلی او لیکلي یي دي چي د ناصرانو ۱۰ زره کورنۍ د افغانستان سرحدي علاقو، دروازه ګی او لیورګی ته راغلي دي؛ او هغوی ته ویل سوي دي چي دوی افغانستان ته نه سي داخلېدلای. هغوی وایی موږ پرته له افغانستانه بل هیواد نه پېژنو. ناصران وایی چي یا باید افغانستان ته د داخلېدلو اجازه ورکړه سي او یا دي ټول هلته ووژل سي. د قلات غلزایی حاکم او د شینکی د عسکري قطعي صاحب منصبان وایی چي موږ مجبور یو د دغو ناصرانو د شړلو لپاره له قوې څخه کار واخلو. څرنګه چي د دې ناصرانو شمېر ډېر زیات دی نو نایب الحکومة هغوی ته لیکلي دي چي دوی باید شل تنه مشران، له کورنیو سره، کابل ته او شل تنه مشران کندهار ته ولېږي څو د هغوی په باره کي فیصله وسي. Ibid No.26 28th June 1889

خبرلیکونکی استازی په یوه بل رپوت کي لیکي چي د هوتکو د سیمي له ټولو اوسېدونکو څخه د هر کور پر سر پنځه روپی، یو توپک او یوه توره، د جریمي په توګه اخیستل کیږي. او هغه کسان چي په ښورښونو کي په برخي اخیستلو تورن دي پر هغوی باندي له زرو څخه تر دوو زرو روپیو پوري جریمي حواله سوي دي. د هغو کورنیو، چي نارینه یي تښتېدلي دي، ښځینه او ماشومان د تښتېدلو کسانو پر خپلوانو او قومیانو باندي وېشل سوي دي او له هغوی څخه د ښځینه د تښتېدلو د مخنیوي لپاره ضمانتونه اخیستل سوي دي. د هوتکو د سیمي اوسېدونکي د دغو ښځینه او ماشومانو د ډوډۍ او ژوند لګښتونه نه سي پوره کولای او هره ورځ نایب الحکومة ته شکایتونه راځي خو څوک یي غور نه کوي. Ibid. No.16 27th February 1887

امیر عبدالرحمن خان د خپل قدرت او مرکزي حکومت د ټینګولو لپاره له هیڅ ډول اقدام څخه نه اړاوه. هغه د هیواد د ټولو ښورښونو د کراورلو لپاره، چي په یوه پسي بل پیل کېدی، کافي پوځي او مالي قوت نه درلودی نو د غلجیو په مقابل کي یي له درانیو او د هزاره ګانو په مقابل کي یي د غلجیو او کله کله د دواړو قومونو له قومي لښکرو او قوت څخه کار اخیست. د امیر دې تاکتیک د ده لپاره ښه نتیجه ورکړه خو په اوږده موده کی یي د قومونو ترمنځ دښمني دایمي کوله. امیر د پوپلزیو، الکوزیو او بارکزیو قومونو څخه د اندړو، توخو او هوتکو د یاغي سویو قبایلو په مقابل کي کار اخیستی. د برتانیي استازی له کندهاره څخه په یوه رپوټ کي لیکي چي نایب الحکومة په بازار کی یو اعلان خپور کړی دی او پکښي لیکلي دي چي امیر هغه بارکزي چي د ښورښي اندړو په مقابل کي جنګېدلي او د هغوی له لاسه یي ماته هم خوړلي ده ځکه نازولي دي چي هغوی د ښورښونو په ځبلو کي عسکري خدمت ته حاضر ول. هغوی ته یي جامي او نور مواد ورکړي او هر یوه ته یي یو توپک ورکړی دی او په نیت کي لري چي د ښورښي غلجیو د ځپلو لپاره نور دراني عسکر استخدام کړي. Ibid. No.4 11th January 1887

په دې برخه کي دومره رپوټونه دي چي د مضمون تر حوصلي وتلی کار دی او یوه بشپړ کتاب ته اړتیا ده. په لنډ ډول ویلای سو چي امیر د خپل عمومي پلان، یعني مرکزي او قوي حکومت د منځته راوړلو او انارشی د ختمولو لپاره هر کار ته لاس اچاوه او بالاخره یي داسي امنیت قایم کړ چي د ده په قول په ټول هیواد کي په کال کی پنځه قتلونه هم نه کېدل. په داسي حال کي چي د ده له حکومت څخه مخکي په هر ښار او ښارګوټي کي د قتلونو او جنایتونو شمېر لس هاوو او سل هاوو ته رسېدی.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

مأخذونه:

۱: عبدالرحمن، امیر. تاج التواریخ. مرکز نشراتی میوند. پشاور قصه خوانی دهکی نعلبندي. ۱۳۷۵.
۲: کاتب، ملافیض محمد. سراج التواریخ، جلد سوم قسمت دوم. قُم، ایران. ۱۳۷۰.
۳: مجددي، عبدالحق. حقیقت التواریخ. مرکز نشراتی میوند، پشاور، ۱۳۷۸.
۴: غبار، میرغلام محمد. افغانستان در مسیر تاریخ جلد اول. کابل، دولتي مطبعه، چاپ اول ۱۹۶۷.

5: Kakar, Hasan. Afghanistan, Kabul 1971.
6: Mac Munn, Lt: General. Afghanistan from Darius to Amanullah. Quetta, Pakistan 1978.
7: Sykes, Percy. A History of Afghanistan Vol2 India 1981.
8: Fletcher, Arnold. Afghanistan Highway of Conquest. New York 1966.
9: Kandahar Newletters. Vol 2-3-4-5 Quetta Pakistan 1990.

د لیکوال آرشیف


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ